مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم
۲۰۲۳/۰۷/۱۷

# د تشنابونو ستونزه

د تشنابونو ستونزه په ښارونو کې هم شته او په کليو کې هم. په ځينو کليوالو پښتون مېشتو سيمو کې تشناب څوک نه پېژني. مثلاً په خوست کې نارينه په خوړونو او کندو کې کېني خو د ښځو لپاره د انګړ په يوه کوټ کې پرده لګېدلې وي ښځې د پردې شا ته د مځکې په مخ باندې حاجت رفع کوي. که په يوه کور کې شپږ اووه ښځې او نجونې وي او هره يوه په ورځ کې يو ځل متيازو ته لاړه شي، د ناستې ځای هم تر دوه مربع مترو زيات نه وي نو تاسې تصور کولی شئ چې هلته به څه حال وي. دغه سر خلاصی تشناب د مچانو او نورو حشراتو لپاره ښه مېله ځای وي بيا دغه حشرې کوټو ته راځي پر دوډۍ او دسترخوان باندې کېني. نارينه چې په خوړونو او کندو کې د پولو شاته کېني بيا د باران له اوبو سره د دوی مردارۍ ډنډونو ته راځي. په خوست کې للمې ځمکې ډېرې دي، خلک ډنډونه جوړوي چې د باران اوبه پکې راټولې شي، بيا د جامو او لوښو د مينځلو لپاره همدغه اوبه کاروي، مال هم په ډنډونو کې اوبه کوي، اودسونه هم پکې کوي او پخوا چې کوهۍ کمې وي نو خلکو به پخپله هم د ډنډ اوبه څښلې.

پخوا په کابل کې اکثرو کورونو وطني کنارابونه لرل. وړه کوټه، په غولي کې يې مستطيل شکله سوری، له سوري څخه به غايطه مواد کښته تکاو ډولې کوټنۍ ته تېرېدل. کوټنۍ چې به ډکه شوه، پارو کشانو به په بېلچو راايستل. له دې موادو څخه د سرې کار اخيستل کېده. پخوا په کابل کې کښتې ځمکې ډېرې وې او کورونه کم نو دغه ټول مواد به په پټيو کې مصرفېدل. اوس چې د دولت د بې غورۍ په وجه کرنيزې ځمکې نه دي پاتې او هر ځای کورونه جوړ شوي دي د تشنابونو ستونزه بيخي زياته شوې ده.

مهاجرتونو خلک له عصري تشنابونو سره بلد کړل. اوس د اکثرو کورونو په تشنابونو کې کموډ او دستشوی لګول کېږي. د تشناب اوبه سپټيک څا ته ورځي. دې کار دا ګټه رسولې ده چې غايطه مواد او ميتيازې په لارو کوڅو کې نه بهېږي او په څا ګانو کې د مچانو او نورو حشراتو له بريده خوندي پاتې کېږي. خو ستونزه دا ده چې ځمکه د دې څاګانو اوبه جذبوي. د کابل د اکثرو سيمو ځمکه شګلنه ده او اوبه په اسانۍ سره ځنې تېرېږي. د يوې سروې له مخې د کابل په ډېرو سيمو کې د څښلو اوبه ناولې شوې دي. ويل کېږي چې د تايمني په سيمه کې په څا ګانو کې تر اوبه ميتيازې ډېرې دي. بل غم دا دی چې د پر له پسې وچکاليو په وجه د اوبه کچه ټيټه شوې ده، که پخوا په يوه ځای کې اوبه شل متره کښته وې اوس پنځه ويشت دېرش متره کښته شوې دي. خلک هم مجبورېږي لا ژورې څاګانې وکني او له دې سره د اوبو کچه لا زياته ټيټېږي.

د حل لاره څه ده؟

د حل غوره لاره دا ده چې سپټيک څاګانې په معياري بڼه جوړې شي، لاندې قير واچول شي بيا کانکرېټ او د ديوالونو شاوخوا يې هم په قير باندې وپوښل شي. په دې توګه به مردارۍ اوبه ځمکې ته نه جذبېږي.
د سپټيکو څاګانو بله ستونزه د هغوی ډکېدل دي. د دې څاګانو د تشولو لپاره مخصوص ټانکرونه شته چې ډېرې پيسې اخلي. د دې لپاره چې سپټيک څاګانې ژر ژر ډکې نه شي ښه به دا وي چې يوازې د کموډ اوبه ورسيخې شي، د دستشوی او ټپ نلونه دې جلا د انګړ منځ يا کوڅې ته وايستل شي. هسې هم د وچکالې په وجه د ونو او ګلانو اوبول ګران شوي دي. که ورته په واټرپمپ باندې اوبه راوباسي نو برق به دې مصرف شي. که د دستشوی او ټپ اوبه پټيو او ونو ته سيخې شي نو د اوبو د اسراف مخه به ونيول شي او سپټيک څا به مو هم ژر نه ډکېږي.
کليوال که نور څه نه کوي نو دومره خو کولی شي چې د وطني کنارابونو تجربه وازمايي. هلته لا کښتې ځمکې ډېرې دي او دوی له فاضله موادو څخه د سرې کار اخيستلی شي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ